# خاکه نګاري: هیئت، ډولونه اوارتقاء
# Sketch Writing: Structure, Kinds and Development

Wazir Shadan,* Farkhanda Hayat†

**Abstract**

Sketch is that kind of depiction in prose through which a vivid but concise image of a desired personality is brought to light. This genre was introduced in Pashto after independence and it was borrowed from Urdu literature where its found its roots English. In this research article various aspects of Pashto Sketch including its Definition, kinds, development and its significant role in Pashto literary realm would be elaborately highlighted.

## ۱ دخاکې پېژندګلو

خاکه دمنثورادب هغه صنف دے چې په انګرېزی ژبې ورته sketch وائي - سکېچ په اختصاراو بېړه دچانقش جوړولوته وائي[1]. لکه څۀ رنګه چې یومصور دبرش په مدد عکسونه جوړوي دغه رنګ یوخاکه نګارپه لفظونو کښې دچاشخصیت ،تصویر،نقشه یاکړۀ وړۀ په داسې رنګ ظاهروي چې د صاحبِ خاکه پېژندګلوپرې کېږي.خاکې ته په پښتو ادب کښې ادبي انځورهم وئیلے شي چې لغوي معنا ئې رسم ،کشیده،نقش،نښان،نمونه او علامه ده [2]. خاکه یاادبي انځورپه اصطلاح کښې هغه غېرافسانوي لیکنه ده چې په ادبي ټکیوکښې په اختصاراو دیانتدارئ د چادکردار په رڼادهغۀ د پېژندګلوسبب اوګرځي.په خاکه کښې د مخ کړۀ وړۀ هم په ښکلي انداز بیانولے شي -

Assistant Professor, Government Post-Graduate College, Kohat †
Associate Professor, Pashto Academy, University of Peshawar †

دخاکې په باب ځيني نظرونه په دې ډول دي:

ډاکټرسليم اخترخاکه د پنسل هغه سکېچ ته وائي چې په کموکرښوکښې ديوې څېرې تاثر واضح کوي [3].تنويرحسېن ديوعمارت،قيصې،مضمون يا تصنيف وړومبۍ نقشه خاکه بولي [4]. ډاکټربشيرسيفي هغې فن پارې ته خاکه وائي چې په کښې په اختصارسره دچاکرداراسې څرګندشي چې هغه کس په کښې ژوندے ګرځي راګرځي اوليدل شي. په خاکه کښې د صاحبِ خاکه د شخصيت مثبت اومنفي اړخونه ،خلوت اوجلوت دواړه اړخه داسې اوښودل شي چې دهغه شخصيت دپېژندګلوباعث شي [5].هم دغه ليکوال په يوبل ځائے کښې خاکه هغه تخليقي مضمون ګڼي چې په کښې ديوفرد دشخصيت اهم اړخونه په ذاتي حوالوسره په لنډوټکيوکښې وړاندې کړے شي[6].

مشتاق مجروح ليکي:

> په انګرېزۍ کښې سکېچ په پښتو او اردوکښې ورته خاکه وئيلے شي.سکېچ sketch دفنِ مصورۍ اصطلاح ده چې په کښې دڅوکرښوپه مددسره ديوشخصيت دمخ خدوخال واضحه کولے شي .[7]

اوواښادسعيدګوهرليکي:

> خاکه محض sketch نۀ دے،چې صرف څېره يا کړۀ وړۀ څرګندوي ولې،چې داکارخوعکاسي،مصوري اومجسمه سازي زيات ښۀ کولے شي.دا په اصل کښې character sketch دے ،چې له کردارسره براه راست کارلري.خاکه د وګړي له خارجي رويوسره سره دهغۀ دداخلي شخصيت اېکسرې هم مونږ ته وړاندې کوي،چې له جذباتو، احساساتو، کېفياتو، رجحاناتو اوخيالاً توپه حواله ئي پېژندنه اوشي،ښۀ اوبد اړخونه ئې دواړه رابرڅېره شي،صورت اوسيرت،خميراوضميرئې دواړه متعارف شي.[8]

نوموړے څېړنکارحبيب الله رفيع دادبي انځورتعريف په دې ډول کوي:

> ادبي څېرې په ادبي ژبه انځورول ،په اردو ادب کښې خاکې بولي.خومونږ ورته ادبي انځور ويلے شوپه دې ډول پېژندنه کښې ديواديب يابل چا دپېژندنې په دې ټکيو زورنۀ اچول کېږي چې دپلاني زوے،دپلاني ځائے،په پلاني کال زېږېدلے اوپه پلاني کال مړ دے،بلکې په دې ډول ليکنه کښې دا پېښې ضمني وي او يوې څېرې د انځورله پاره داسې مواد او الفاظ برابرېږي چې دا څېره دټولنپوهنې

،اروا‌پوهنې او ټولنپوهنې دځېړنوله پاره اساسي او پوخ کار ورکوي په دې ډول څهره لیکنه کښې دیوچاځوي بُوي ،کړۀ وړۀ ،راشه درشه او دژوندډېرې نورې ګوښې روښانه کېږي۔[9]

پروفېسرفضل میرخټک لیکي:

خاکه نګاري دمضمون یوقسم دے چې په کښې دیوکس دشخصیت عکاسي کولے شي او دادب یوصنف هم دے چې په کښې دیوکس دشخصیت ،منفرد،اهم اونمائنده اړخونه په داسې طرزبیان شوي وي چې دهغۀ ټول شخصیت لکه کړۀ وړۀ،مخ اوخدوخال سره سره دهغۀ پټې او ښکندې خوبیانې دژوندي اوګرځنده تصویر غوندې لوستونکوته ښکاره شي[10]۔

رفیع الدین هاشمي دخاکې په باب لیکي :

دخاکې (ادبي انځور) لغوي معنا لومړنی نقشه ده خودلته ورڅخه مقصدپه الفاظوکښې دانځور وړاندې کول دي اوپه ادبي اصطلاح هغه لیکنه یامضمون دے چې د یو چا د شخصیت پوره انځور وړاندې کوي چې دشخص لیکلے انځور هم ورته وئیلے شو۔[11]

که څۀ هم سکېچ یا خاکه اصلاً دانځورګرۍ اصطلاح ده خو د ادب دې صنف له پاره ځکه وضع او اېښودل شوې چې په دې کښې دالفاظوهم هغه اهمیت دےلکه په انځورګرۍ کښې چې د کرښو دے خوتوپیر ئې په دې کښې دےچې په انځوګرۍ کښې دیوشخصیت ظاهري بڼه ښکندېږي اوپه دې ادبي صنف کښې ادیب دکلموپه وسیله دشخصیت باطني کردار او کړو وړو د ښکندولو هڅه اوکوشش کوي [12].

دادبي انځور لیکوال باید د یوشخصیت دمعرفي کولوپه محال له ډېرغوراودقت څخه کار واخلي ،ځکه هغه یوډېرستونزمن کار په مخکښې لري،لومړے بایدله هغه چاسره چې لیکنه کوي یا په بله ژبه ادبي انځور وړاندې کوي ،پوره اشنائي اولري، دهغۀ دشخصیت ګڼ اړخونه ورمعلوم وي او دیوې ژورې کتنې په نتیجه کښې دهغه شخصیت هغسې چې لا زم دے نورو وته ور اوښودلے شي او دا کارځکه مشکل دے چې انساني شخصیت ډېره پیچلې بڼه لري او د انسان پېژندل دټولو نه ګران کاردے نولیکوال باید د ادبي انځورپه لیکنه کښې په ډېراحتیاط قلم اوقدم پورته کړي [13].

# ۲ دخاکې ځینې ځرګند خصوصیات

## ۱.۲ اختصاراوجامعیت

خاکه لیکل ډېراحتیاط غواړي .په خاکه کښې په ډېروکموټکو کښې خپل ټول مطلب بیانولے شي د ځینې نورو صنفونو( ژانرونو ) په حېث په خاکه کښې طوالت نۀ وي خوجامعیت په کښې وي.په لنډو او چونړ شوؤټکیو کښې د یو چاپېژندګلوکولے شي.تقریباً ټول ځېړنکاران په دې یوه خولۀ دي چې خاکه به په اختصارسره لیکلے شي.په خاکې کښې دیوچا لړه ډېره پېژندګلو مخې ته راځي ، نۀ چې دهغوي دژوندمکمل تفصیل – په خاکه کښې لفظونه ډېر په احتیاط استعمالول په کاردي چې مطلب ته هم په کښې ځۀ زیان اونۀ رسي اوپه کموټکسوکښې جامعیت پیداکړي.

## ۲.۲ حقیقت نګاري

خاکه نګارته په کاردي چې هغه د دروغو او مبالغې نه کار وانخلي ځکه چې دې سره دیوشخصیت حقیقي پېژندګلوممکنه نۀ وي. په کارده چې کوم کرداریاخدوخال چې دکوم شخصیت وي هم هغه شان وړاندې کړے شي.خاکه نګارله غېرجانبدار اوسېدل غوره دي. انسان خوبئ هم لري او خامئ هم بایدچې دغه دواړه په یوخاص تناسب بیان کړے شي چې نۀ ترې مزاحیه مضمون جوړشي او نۀ هجو اوګرځي. سپین بیان ضروري دے خوداسې هم نه چې دچاڼرۀ ازار شي.دخاکې مطلب دچاسپکاوے نۀ دے بلکې د هغوي دپېژندګلو کوشش دے.

## ۳.۲ کردار او حلیه نګاري

په خاکه کښې دچاپېژندګلو دپاره دهغوي ځینې کردارونه مخې ته راوړلے شي. دخبرې نه خبره اوځي او دهغه شخصیت انځورپه لوستونکیو واضح کېږي.حلیه نګاري او خدوخال هم دخاکې اهمه برخه ده خو په دغه حواله هم ډېرد احتیاط نه کاراخیستل دي ځکه چې مسخره ترې نه جوړه نۀ شي.دخاکه نګار دپاره دا فکرکول هم ضروري دي چې یوشخصیت په داسې ډول رااوپېژني چې دهغه شخصیت کرداراوحلیه زمونږ په وړاندې په ښکاره مخې ته راشي اوخاکه نګارداسې دهنرنه کار واخلي چې دهغوي خپل شخصیت په پس منظرکښې پاتې شي .

### ۴.۲ اسلوب

خاکه په یوخاص اسلوب پورې تړلې نهٔ ده .دا نهٔ ډېره درانه وي اونهٔ سپکه- نهٔ ښخي سائنسي وي اونهٔ فقط تخئیلي- خاکه په رسمي اندازکښې لیکله شي.دایوخاص روایتي انداز نهٔ لري بلکې په یوغېرسنجیده ډول مخ په وړاندې ځي.

تنویرحسېن په دغه باب لیکي:

''دخاکې اندازغېررسمي اوغېرروایتي په کاردے ځکه چې دخاکې نه چېرته قصیده یاهجوجوړه نهٔ شي [14]''

دغه رنګ بې ساختګي اوشګفتګي هم دخاکې خوبی ګڼلې شي.بایدچې اندازِبیان ئې ساده،روان،بې ساخته،خوږ اولطیف وي.

### ۵.۲ دخاکه نګاراوصاحبِ خاکه تعلقات

خاکه نګارهله یوه ښه خاکه لیکلے شي چې د صاحبِ خاکه سره ډېر نزدې تعلق لري . دهغوي سره پاتې وي ،دغه رنګ به خاکه نګاردهغوي د کردارنه ښهٔ خبروي او په پېژندګلوکښې به ورته اساني وي.په یو دوه ملاقاتونوکښې دچادومره اړخونه په مشکله پرانستل کېږي چې په اسانه پرې خاکه اولیکلې شي. دویمه داچې خاکه نګار لږ ډېر ماهرنفسیات هم وي چې د شخصیت باطن ته کوزېدے شي ځکه دغه هنرباریک هم دے او ګران هم.

## ۳ د خاکې قسمونه

### ۱.۳ سرسري خاکه

سرسري خاکه هغه خاکه یاادبي انځوردے چې دیوشخصیت په حقله لږې ډېرې تعارفي جملې،حلیه،کړهٔ وړهٔ،عهده اوپه اختصارسره څهٔ نورمعلومات اولري.سرسري خاکه عموماً دهغه خلقوپه حقله لیکله شي چې خاکه نګار ورسره ډېرنزدې تعلق نهٔ لري یادهغوي په حقله کم معلومات لري.

''په دغه قسم خاکوکښې د صاحبِ خاکه د داخلي اونفسیاتي کېفیاتو بیان ډېرکم وي.په دې کښې نهٔ د واقعاتو ژوروالے وي اونهٔ بیان. [15]''

## ۲.۳ تاثراتي خاکه

په تاثراتي خاکه کښې دیوشخصیت په حقله په ذاتي تاثراتو او احساساتو تکیه کوله شي.دیوشخصیت دپېژندګلود پاره یو تاثر وړاندې کوله شي کوم چې خاکه نګار دصاحبِ خاکه په حقله قائمه کړې وي.

ګلنازبانوپه دغه حواله لیکي چې دغه تاثرمثبت هم کېدے شي او منفي هم.[16]

خوپه دغه قسم خاکه کښې داسې لیک نۀ دے په کارچې دچادزړۀ دخفه کېدو سبب اوګرځي.

## ۳.۳ سوانحي خاکه

په دغه قسم خاکه کښې دیوچادسوانح په حقله معلومات راوړلې شي لکه خاندان،دپېداوښت مقام،تعلیم اوخدمت وغېره

ګلنازبانودسوانحي خاکوپه باب لیکي:

> د سوانحي خاکو یو قسم ته پروفائلزProfiles وئیلے شي.په دې کښې د شخصیت Bio data سوانحي حالات اوعوامي خدمات اوکارنامو په حقله بیان کولے شي.[17]

خودلته دا احتیاط ضروري دےچې دسوانح نګارۍ اوخاکه نګارۍ ترمېنځ فرق وپېژندل شي ځکه چې په سوانح نګارۍ کښې دپېداوښت نه واخله ترمرګه پورې حالات او واقعات په تفصیل سره راوړلې شي خوپه خاکه کښې د شخصیت دکردار په مددیوه ځانګړې شان پېژندګلو وي.

## ٤.۳ تعریفي خاکه

هغه خاکه چې په کښې دچا تعریف شوے وي،تعریفي خاکه بلله شي.انسان دخېراو شر امتزاج دے.په خاکه کښې یوخاص تناسب ضروري دے چې نۀ دچانه شیطان جوړکړے شي اونۀ فرشته .انسان ته دانسان په نظرکتل په کاردي چې خوبۍ هم لري اوخامۍ هم. خو په تعریفي خاکه کښې صرف دیوشخصیت تعریف مراد وي.

### ۵.۳ اجتماعي خاکه

کله کله یوخاکه نګاردیوشخصیت په ځاے دګڼوشخصیتونوپه حقله معلومات راوړي چې ورته اجتماعي خاکه وئیلے شي.په دې قسم خاکه کښې
کله کله اصل صاحبِ خاکه دنوروشخصیتونو په ظاهرېدو پس منظرته لاړشي.

### ۶.۳ معلوماتي خاکه

په معلوماتي خاکه کښې دیوشخصیت په حقله داسې معلومات راوړلے شي چې دهغه شخصیت پېژندنه پرې کېدے شي.په دغه قسم خاکه کښې دمعلوماتوانتخاب ضروري دے ،غېرضروري معلومات دخاکې په اوږو بارجوړوي.

## ٤ د خاکې (ادبي انځور) او د ژوند لیک ترمېنځ توپیرونه

دانسان پېژندنه ډېرګران کاردےځکه چې د انسان باطل ځان له دنیا ده اوظاهرځان له،ډېرکم انسانان به داسې وي چې ظاهراوباطن ئې یوشان وي.اکثرپه یوشخصیت کښې دیوبل خلاف وي.انسان له ځایه دخېراوشرسره په جنګ دے.دچاچې ایماني قوت قوي دے دهغهٔ په شخصیت کښې خېرحاوي دے اودچاچې دغه قوت کمزورے دے نوشرپرې غلبه کړے ده ځکه خو وئیلے شي چې دځان په پېژندنه کښې دخداے پېژندنه ده. دغه شان دبل چاپېژندګلو هم ګران کاردے که هغه خاکه وي یا ژوندلیک یا شخصیت نګاري.په ظاهره خو دا درې واړه صنفونه دشخصیت دپېژندګلودپاره پکارولے شي خوجوړښت ئې توپېر لري.په درېواړوکښې دشخصیت پېژندنه جزِمشترک دے.
خاکه په لږو او چوڼ لفظونوکښې په اختصارسره دیوشخصیت د کردار په حواله په خوږ او لطیف اندازکښې داسې ادبي انځوروړاندې کول دي چې دلوستونکیوپه وړاندې دهغه شخصیت څېره اوکردار مخته راشي اوپه څهٔ نه څهٔ ډول ضرور اوپېژندل شي.خوپه ژوندلیک کښې داسې نهٔ وي ځکه چې په ژوند لیک کښې دیوشخصیت په حقله دپېداوښت نه واخله ترمرګه پورې په تفصیل سره بحث کولے شي.شخصیت نګاري دژوندلیک اوادبي انځورپه مېنځ کښې یوصنف دے چې نهٔ خودومره طوالت اوتفصیل لري لکه د ژوند لیک اونهٔ دومره اختصارلري لکه ادبي انځور.په ژوندلیک اوشخصیت نګارئ کښې هم پوره فرق دے خوپه ترتیب سره لیک ئې قدرِمشترک دے البته خاکه ددې نه ازاده ده.دخاکې دپاره هېڅ کوټلے ثبوت نهٔ شته.

د ژوندلیک اندازسنجیده اوعلمي وي خودخاکې انداز غېر سنجیده، تازه اولطیف وي.
سیدمحي الدین هاشمي دژوندلیک او ادبي انځورتوپېرداسې بیانوي:

> دادبي انځورلیکوال دژوندلیک لیکونکي برعکس دیو وګړي دشخصیت وړ او ناوړه اړخونه دواړه دلوستونکي مخې ته ږدي....دژوندلیک اوادبي انځور یوترټولومهم اوجوت توپېرداده چې دادبي انځورژبه دژوندلیک په پرتله ډېره ادبي هنري،خوږه او زړهٔ راکښونکې وي اودشخصیت دپېژندلودپاره په الفاظوکښې په یوزړهٔ پورې منظرکشي کېږي.[18]

## ۵ دخاکې ارتقاء

خاکه پښتوادب ته به باقاعده ډول د هند د وېش نه پس دانګرېزئ نه د اردو په لار راغلې ده.عبدالحلیم اثرافغاني اولنے خاکه نګاربللےشي چې د ''خلیق صاحب '' سرخط لاندې ئې په عبدالخالق خلیق خاکه اولیکله اوپه اووهٔ ورځنئ اخبار'' انصاف'' کښې په کال ۱۹۴۹ء کښې چاپ شوه.خوددې نه وړاندې اخون درویزه بابادپیرروښان په حقله ځینې داسې معلومات راوړي دي چې دپیرروښان نیمګړې خاکه ورته وئیل کېدے شي.دخوشحال په کلام کښې هم دننګیال،بهرام اونوروقبیلوخلقوپه حقله داسې معلوماتي خبرې شته چې تر ډېره حده دهغوي دپېژندګلوسبب ګرځي خو وړومبې باقاعده نثري خاکه اثرافغاني لیکلې ده[19].دې پسې نوروليکوالوهم خاکې اولیکلې چې دهغه وخت په اخبارونو او مجلوکښې چاپ شوې.په دغه حواله دمیااحمدشاه خاکه ''سمندرزماپه نظرکښې''او قمرراهي خاکه''ډاکټر عبدالغفار زماپه نظر کښې'' خصوصي اهمیت لري . وروسته قمرراهي په خپله مجله قندمردان کښې په هره ګڼه کښې دغه سلسله د"کرښې" په نوم جاري اوساتله.

په افغانستان کښې هم اروابښادالفت،اروابښادعبدالحئ حبیبي ، اروابښاد صدیق الله رېښتین اواروابښادعبدالرؤف بېنوامختلف ادبي انځورونه اولیکل چې په کابل مجله اوځینو نوروکښې چاپ شول.دې پسې ځینې نورو لیکوالو لکه حبیب الله رفیع ،زلمے هېوادمل ،ځواني مرګ وحید، اروابښاد محمدګل نوري او زرین انځور هم خاکې اولیکلې.

دغه رنګ دخاکې (ادبي انځور) ارتقائي سلسله مخ په وړاندې روانه شوه.ګڼ خاکه نګاران راوړاندې شول اوخاکې ئې اولیکلې چې دخپل وخت په ورځپاڼو او مجلوکښې چاپ شوې.ځینې لیکوالوخودخاکوکتابونه چاپ کړل.دمثال په توګه:

- داصغرلالا '' ژوند اوادب'' مضمونونه،تکلونه اوخاکې ) ۱۹۶۸ء

- دسليم راز '' تنقيدي کرښې'' ( تنقيدي مضمونونه اوخاکې ) ۱۹۹۹ء
- د ډاکټرزبېرحسرت ''نقشونه '' ۱۹۹۹ء
- د ډاکټرهمايون هما ''ښکلي ښکلي خلق '' ۲۰۰۰ء
- د قمرراهي '' کرښې'' ۲۰۰۴ء
- دحبيب الله رفيع ''زندان خوړلي اديبان'' ۱۳۸۵ل

ددې نه علاوه په ورځپاڼه " الفلاح " کښې دقلمي څهرې،ليدلے کتلے سرخط لاندې دګڼوليکوالوګڼې خاکې چاپ شوې. دقلندرمومند ''اميرحمزه خان شنواري''،دايوب صابر ''تيره وال'' ،دلطيف وهمي '' حسېن بخش کوثر'' ، د طالب تاجک '' عبدالرحيم مجذوب''،دولي محمدطوفان ''محمودقلندر'' او د همېش خليل ''سمندرخان سمندر'' دلوړې پائې خاکې ګڼلے شي. د ګورنمنټ کالج مردان کاليزه مجله '' شفق''دحافظ ادريس خصوصي نمبر د يادولو وړ دے.په دغه مجله کښې دحافظ ادريس دوه خاکې ''قمرراهي'' او''سيدتقويم الحق کاکاخېل'' دفن په لحاظ معتبرې خاکې دي. د پښتو اعتراف نمبر اودمرکه ( مردان ) خاکه نمبر په دغه باب اهم کردارلري.دغه رنګ نورو ډېروادبي مجلوهم دا صنف مخ په وړاندې بوتلو.دادبي خاکوپه حواله يوڅونورنومونه هم د قدر وړدي لکه صاحبزاده فيضي،رشيدعلي دهقان، سلطان محمدصابر، صاحبزاده حميدالله، سيدخېرمحمد عارف، ډاکټر محمداعظم اعظم،عبدالحق نسيم،عبدالکريم بريالے ، ربنوازمائل، جعفراچکزے،سيال کاکړ، سرور سودائي ، عمرګل عسکر،ډاکټرچراغ حسېن شاه ، مراد شنواري ، ايازداؤدزے،تقي شراب هاشمي،عبدالله جان مغموم،م-ر شفق ، سعيدګوهر، فهم دل راهي، ډاکټر اسرار،افضل رضا،اخترمنيرمنير، حېران خټک ، ډاکټر دروېش، نورالبشرنويد ، روښان يوسفزے،محب وزير ، همايون همدرد اوداسې نور.

# حوالي

[۱] کتابستان (انګرېزي لغت ) نيويوائزايډيشن، لاهور، مخ ۶۰۶

[۲] پښتوتشريحي قاموس ( لومړے ټوک ) ،دافغانستان دعلومو اکېډمي، دژبو او ادبياتومرکز،۱۳۸۳ل ( دويم چاپ )،مخ ۹۵

[۳] سليم اختر،ډاکټر،اردوکی مختصرترين تاريخ،سنگِ ميل پبليکېشنز لاهور،۲۰۰۰ء (اشاعتِ دوم) ،صفحه ۵۲۰

[٤] تنویرحسېن،اصنافِ اردو،مقبول اکېډمي لاهور،۲۰۰۹ء،صفحه ۱۸۰

[٥] سیفي، ډاکټربشیر،اردو مین خاکه نګاري مشموله مجله خیابان ( اصنافِ نثر نمبر )،شعبه اردوجامعه پشاور،۹۵-۱۹۹٤ء،صفحه ۲٦٤

[٦] سیفي،بشیر،خاکه نګاري فن اور تنقید، نذیر سنز پبلېشرز لاهور، ۱۹۹۳ء، صفحه ۱۲

[۷] یوسفزے،مشتاق مجروح،زرکاڼے،تاج کتب خانه پېښور،۱۹۹۸ء،مخ ۹۲

[۸] سعیدګوهر، مشموله، نقشونه دمحمدزبېرحسرت ،ملت پرېټنګ پرېس لاهور، ۱۹۹۹ء،مخ ۱۰

[۹] رفیع،حبیب الله ،زرینې ځانګې، دافغانستان دعلومو اکېډمي،دژبو او ادبیاتومرکز،دزرې جریده،۱۳٦۰،مخ ٦-۱۰۵

[۱۰] خټک، فضل میر، فضلیات، پېښور۱۹۹۹ء، مخ ۹۲-۱۹۱

[۱۱] هاشمي،رفیع الدین (لیکوال)،سرمحقق عبدالرحیم ځدران ( ژباړن ) ادبي ژانرونه، الا زهرکتاب خپرندویه ټولنه،پېښور۱۳۸۵ل،مخ ۲۷

[۱۲] داؤد، داورخان، څېړنه اوکره کتنه، پېښور۲۰۰۳ء، مخ ۲۲۵

[۱۳] هاشمي ،سیدمحي الدین، څېړنوال، دنثري ادب ډولونه، د افغانستان دعلومو اکېډمي، دپښتوڅېړنونړیوال مرکز۱۳۸۹ل (۲۰۱۰ ء)، مخ ٥۲٦

[۱٤] تنویرحسېن، اصنافِ اردو، صفحه ۱۸۱

[۱٥] بانو،ګلناز،صوبه سرحدمین خاکه نګاري ( غیرمطبوعه مقاله ایم فل اردو)، شعبه اردوجامعه پشاور،۲۰۰۲ء،صفحه ۳۱

[۱٦] هم دغه اثر،صفحه ۳۲

[۱۷] هم دغه اثر، صفحه ۳۲

[۱۸] هاشمي، سیدمحي الدین، څېړنوال، دنثري ادب ډولونه، مخ ٥۲٦

[۱۹] *عابد، عبدالله جان، پشتوزبان وادب کي مختصرتاریخ،یونیورستي پبلیشرز پشاور، ۲۰۰٦ء، صفحه ۳۳۳-*